بسم الله الرحمن الرحيم

# ايا کرونا زموږ ګډ دښمن دی؟

## خبر

کله چې د ترکيې ولسمشر اردوغان د ياد هېواد له ښاروال سره ويډيويي اړيکه نيولې وه، دغو دواړو د کرونا ويروس د خطر پر وړاندې پر هلوځلو خبرې وکړې، ياد ويروس اوس ټوله ترکيه او نړۍ نيولې ده. دوی کرونا ويروس يو ګډ دښمن اعلان کړ او د هغه پر وړاندې يې د خپلو هڅو ستراتېژي بيان کړه او ويې ويل: «اوس زموږ پر وړاندې دښمن د کرونا ويروس دی. موږ بايد ډېر ژر د دغه خاين دښمن پر وړاندې مبارزه پيل کړو؛ ځکه چې زموږ د هېواد راتلونکی او د خلکو ژوند يې له ستونزو سره مخ کړی. موږ دغه دښمن ته يوازې يو له بل سره د لاس ورکولو او همکارۍ په وسيله ماتې ورکولی شو. موږ يوازې د خپل يووالي په وسيله دغه دښمن له منځه وړلای شو. نن هغه ورځ ده چې موږ خپله کورنۍ وروروالي را ياده کړو او هر ډول سياسي، نژادي او فرقه يي اختلافات له پامه وغورځوو. نن ورځ د دغه ګډ دښمن پر وړاندې زموږ د يووالي ورځ ده، لکه څنګه چې د ازادۍ لپاره په جنګ کې هم يووالی لرو».

**تبصره**

ولسمشر اردوغان باید د داسې یوه ویروس چې کووېډ- ۱۹نومېږي او د مایکروسکوپ په وسیله لیدل کېږي، خبرې نه کولای، بلکې د هغه اشغالګر قدرت پر وړاندې یې پرېکړه کړې وای، چې هغه زموږ د هېواد د راتلونکي او خلکو لپاره لوی ګواښ دی، چې دغه قدرت د وژونکو یوه رمه ده او په پرمختللو ویرانوونکو وسلو سمبال دي، باید د دغه دښمن پر وړاندې یې غبرګون ښودلای وای، نه د ویروس پر وړاندې.

که نوموړي خپل دغه غږ د اشغالګرې امریکا پر وړاندې پورته کړی وای او ټول ملت یې په یووالي سره د امریکا پر ضد جنګ ته هڅولی وای او بیا په دغه جنګ کې نوموړی د ټولو تر مخ وای، نو هغه مهال یې د ستایلو حق درلود او موږ به هم د ده تر شا د دغه ګډ دښمن (امریکا) پر وړاندې جنګ کې ورپسې روان شوي وو. که نوموړي د یهودي حرامي دولت چې د چټلې په څېر یې شپېته کاله په فلسطین او منځني ختیځ کې ځای نیولی، پر وړاندې د جنګ کولو لپاره دغه غږ اوچت کړی وای، نو د ترکیې او نړۍ مسلمانان به هېڅوک هم په کور کې نه وای پاتې شوي، خو دوی د مسجدالقصی د مقدسې خاورې د چټلیو څخه د پاکولو لپاره یوازې لاریونونه کوي. خو اردوغان هغوی چې په ځمکه کې فساد خپروي او د خلکو قاتلین دي، د ګډ دښمن په څېر نه بولي، هغه مرض د ګډ دښمن په څېر بولي چې هغه یوازې د بشریت د ازمایښت لپاره ځمکې ته راغلی دی.

الله سبحانه وتعالی په دې اړه فرمایي:

## ﴿ظَهَرَ الْفَسَادُ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِي النَّاسِ لِيُذِيقَهُم بَعْضَ الَّذِي عَمِلُوا لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ﴾

**ژباړه:** *کله چې فساد ځمکې او بحرونو ته ورسېږي او دا هم د انسان له لاسه وي، نو الله سبحانه وتعالی د انسان د بېدارۍ لپاره هغوی ته سزا ورکوي، تر څو پوه شي او له خپلو ګناهونو څخه لاس واخلي.*

[الروم:۴۱]

زه نه پوهېږم چې څنګه اردوغان د کرونا ویروس او د ازادۍ د جنګ دښمن چې هغه هم د اسلامي امت د بچیانو په وسیله ترسره کېږي، پرتله کړي، چې هغوی له غرب څخه راغلي او اسلامي نړۍ یو له بل څخه جدا کوي.

کرونا د انسان په لاس جوړ شوی روبات، ویجاړوونکې وسله او دې ته ورته وسیله نه ده. که ولسمشر باور لري چې کرونا په لابراتوار کې جوړه شوې بیولوژیکي وسله ده (اګر چې موږ خو داسې فکر نه کوو)، نو نوموړی باید د دغه ویروس جوړوونکی اصلي دښمن وګڼي، نه د کرونا ویروس. د دغه ویروس پر وړاندې په جنګ کې باید له ډېر احتیاط، باخبرۍ او پوره بصیرت څخه کار واخیستل شي،

د خطر د له منځه وړلو لپاره يې بايد تداوي پيدا شي. لومړی او تر ټولو بهتره دا ده چې بايد په الله سبحانه وتعالی باندې خپل ايمان او باور قوي کړو او خلکو ته هم پر دې امر وکړل شي او د اړتيا په وخت کې ګرځبنديز ولګول شي، تر څو د دغه ويروس له خپرېدو څخه مخنيوی وشي، د خلکو ضروري اړتياوو ته پاملرنه وشي؛ ځکه چې هغوی په دغه ګرځبنديزونو کې کار نه شي کولای.

او همدارنګه اړتيا ده چې له دغه حالت څخه عبرت واخيستل شي، دغه ويروس د پانګوالۍ سيستم چې په ټوله نړۍ باندې حاکميت لري، له منځه تلل په ډاګه کړل. دا بايد د راشده خلافت (د اسلام حاکميت) د بيا تاسيس لپاره يو فرصت وګڼو او دا خبره الله سبحانه وتعالی ته پرېږدو چې ويروس زموږ لپاره ښه دی او که بد.

## د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر ته

## ليکوال: محمود کار

## په ترکيه کې د حزب التحرير د مطبوعاتي دفتر مشر


PRESIDEN